# ولی زما ماشوم د کوید-۱۹ واکسین وکړی؟

**واکسین د ماشومانو د کوید-۱۹ ناروغی د اخته کیدو په مخنیوی کی مرسته کوي.**
**واکسین ټولنه د کوید-۱۹ د خپریدو د کمولو په ذریعه ژغوري.**

## آیا ربښتیا هم ماشومان اوس مهال د کوید-۱۹ واکسین ته اړتیا لري؟

هو. د کوید-۱۹ د ناروغۍ خطر اوس هم په لوړه کچه دی؛ هر څومره زر چی ماشومان واکسین شي هغومره به دوی د مرض څخه محفوظ وي.

## د ۵-۱۱ کلن ماشومان به کوم واکسین اخلي؟

په کانادا که د ۵-۱۱ کلن ماشومان یو لږ مقدار د **فایزر-بایونتک**
واکسین (۱۰ مایکروګرام، چی یو په دریمه برخه د غټانو او ځوانانو د واکسین جوړوي) اخلي. لږ مقدار واکسین په ماشومانو که ډیر ښه کار کوي څکه چی د دوی وجود نسبت غټانو ته غښتلی معافیتی ځواب ورکوي. دوی دوه ځله واکسین کیږي.

## آیا د کوید-۱۹ واکسین ماشومانو ته محفوظ دی؟

د کانادا د روغتیا اداره، ګڼه شمیر ساینس پوهانو او څیړونکو په ډیر دقت او احتیاط موجوده طبی شواهد څیړلي او د واکسین په هکله کوم لوی حفاظتی تشویش نلري. د کوید-۱۹ د واکسین ډیر عام جانبی عوارض د نورو واکسینونو د خفیفو جانبی عوارضو سره ورته والی لري لکه د واکسین شوي ځای خوږیده، ستړیا، د بدن د غړو درد، د سر درد، تبه او لرزه دا جانبي عوارض پس له څو ورځو ښه کیږي.

په ډیرو کمو پیښو کی بعضی کم عمره ځوانان او کم عمره غټان د کوید-۱۹ د واکسین اخیستلو څخه وروسته د زړه د عضلی په التهاب (مایوکاردیت) او یا د زړه د باندینی پوښ په التهاب (پیری کاردیت) اخته شوي چی ډیر یی پس له څو ورځو رغیدلي. د ۵-۱۱ کلنو ماشومانو په علمی څیړنه چی د کوید-۱۹ واکسین یی اخیستی وو د زړه د اخته کیدو هیڅ پیښه نده لیدل شوي. د کوید-۱۹ د مرض د اخته کیدو په صورت کی د زړه د اخته کیدلو امکان د کوید-۱۹د واکسین د اخیستلو په نسبت ډیر زیات دی.

د کوید-۱۹ واکسین د ماشومانو سره په روغ رمټ پاتی کیدو کی مرسته کوي تر څو دوی په ښوونځی کی پاتی شی او د خپلو ملګرو سره وخت تیر کړي. هیله کوو څومره چی زر کیږي خپلو ماشومانو ته واکسین وکړی.

**دقیق دیسمبر ۳، ۲۰۲۱**

{REFUGEE}613
TAIBU COMMUNITY HEALTH CENTRE
OCASI Ontario Council of Agencies Serving Immigrants
WCH WOMEN'S COLLEGE HOSPITAL Healthcare | REVOLUTIONIZED

Funded by: Immigration, Refugees and Citizenship Canada
Financé par : Immigration, Réfugiés et Citoyenneté Canada